هدایت الله هدایت

۲۰۱۰/۳/۱

# دنړۍ دوتلو رسنيو اوورځپاڼو پېژندنه(۱۲)
# نیویارک ټایمز ورځپاڼه

The New York Times

په امريکا کي د نيويارک ټايمز، واشنګټن پوسټ او وال ستريټ ژورنال ورځپاڼي د امريکا د خورا مهمو او مشهورو ورځپاڼو څخه شمېرل کيږي ، لکه څنګه چي په تېره برخه کي د واشنګټن پوسټ ورځپاڼي په هکله په اجمالي توګه څه وليکل سوه ، دغه درې سره ورځپاڼي په ټوله امريکا کي د يهودانو د تبليغاتي لويو شرکتو تر سيطرې لاندي دي او ددې هيواد پر دولت، د هغه پر سياست، دهغه پر سرمايه دارۍ سيستم، د سرمايي پر دوران،، د کار، فرهنګ او هنري اړخو باندي مستقيم اثر لري . دغه خبر سازه ورځپاڼي داسي خبرونه جوړوي او خپروي يي چي د خلکو عمومي افکار د خپلي خوښي و موضعګانو ته را واړوي او يا داچي د ځينو موضوعګانو څخه د خلکو پاملرنه بلي خواته ايسته کي او ياداچي پر ډيرو نورو خبرو باندي بيخي تله تېره کي او د خلکو څخه يي پټه و ساتي . دغه رسنۍ مثلاً که وغواړي څوک په انتخاباتو کي کامیابه سي د هغه څخه ملاتړ کوي او که يي نه وي خوښ نو بيا يي د پوښتنو تر بمبارډمان لاندي را ولي او پرېړۍ پسي جوړوي . همداسي کوم هيوادونه چي دامريکا د سياستو سره نه وي جوړه نو بيا هغوی ته لور پر لوټه ورته اچوي او د سر په کاسه کي اوبه ورکوي.

که څه هم د نيويارک ټايمز ورځپاڼه د نړۍ د نورو ورځپاڼو سره د مقايسي له رويه دونه پر تيراژه لويه ورځپاڼه نده ، د ورځي څه کم يو مليون نسخي او د يکشنبو په ورځو کي نيژدې يونيم مليونه نسخي خپروي . په نړۍ کي زياتي داسي ورځپاڼي لکه په جاپان کي د يوميوري شمبون ورځپاڼه سته چي تيراژ يي ان د ورځي و ۱۵ مليونه نسخوته رسيږي . خو نيويارک ټايمز ورځپاڼه ځکه قوي ترينه او ترټولو تاثير ناکه او بارسوخه ورځپاڼه ده چي سياست پوهان، هغه بانفوذه کسان چي په دولت کي کليدي او غټ منصبونه لري ، د لويو شرکتو ، د لويو کمپنيو د بانکو او لويو کاخانو خاوندان، حتی د نورو ورځپاڼو چلوونکي او راډيويي او ټلوېزوني شبکي ټوله هر سهار اول نيويارک ټايمز وايي او په دې ورځپاڼه کي د خپاره سوي پيښو، خبرو او مقالو څخه خپل مطلب اخلي او دهغو پر بنياد بيا خپل سياستونه ټاکي. نيويارک ټايمز په امريکا او نړۍ کي دثروتمنده يهودانو ترټولومهمه تبليغاتي ارګان دئ.

په امريکا کي د يهودانو تبليغاتي قدرت د هغوی و تبليغاتي شبکو ته دا امکان ورکړی دئ چي د امريکي ورځپاڼي او نوري عمده رسنۍ په خپل واک کي راولي او هغه بيا په لويو برخو کي بسته بندي او سره و اوډي . د امريکا د ورځپاڼو څخه يوازي په سلو کي پنځه ويشت ددې دسته بنديو څخه دباندي خپروني کوي ، خو هغوی هم د زياتو وجوهاتو له کبله مستقل چلند نسي کولای ، ځکه چي دوی داسي کوم ثابت عايداتي مدرک نه لري او ډېر لر يي حتی د خپلو ليکوالانو او خبريالانو د معاش تر عهدې را وتای سي . زياتره دغه ورځپاڼي خپل کورني اوبهرني خبرونه د نيويارک ټايمز، واشنګټن پوسټ، وال ستريټ ژورنال او يا لاس انجلس ټايمز غوندي لويو ورځپاڼو څخه کاپي کوي او په واقعيت کي په هغوی باندي اتکاء لري . دغه ورځپاڼي که د غير يهودي کسانو لخوا خپريږي خو د خپلو مصارفو او بودجي د پوره کولو د پاره د يهودي شرکتو او کمپنيو په اعلانو ځان چلوي او پر هغوی باندي متکي دي، ځکه نو په خپلو خپرونو کي هغه تبليغات او سياستونه تعقيبوي چي د يهودانو ګټي پکښي تأمينيږي او دهغوی فکري خطونه پکښي منعکس کيږي . دغه ورځپاڼي که وغواړي خپل کار ته دوام ورکړي نو مجبوره دي د هغوی د مواضعو څخه دفاع وکړي او همداسي يوه لاره ووهي، د هغه نه ماسيوا نيمه خوا پاته کيږي .

د نيويارک ټايمز ورځپاڼه د کال ۱۸۵۱ د سپټامبر پر اتمه د وخت د سياستپوه او خبريال هنري جاريس ريموند Henry Jarvis Raymondاو يوه بانک لرونکي جورج جونز George Jones لخوا خپره سوه. په اول سر کي دغه ورځپاڼه « نيويارک ډېلي ټايمز» په نامه يادېدله ، خو شپږ کاله باد يعني په ۱۸۵۷ کي د نيويارک ټايمز په نامه و نومول سوه . دغه ورځپاڼه په کال ۱۸۹۶ کي د يوه مالي بحران سره لاس او ګريوان سوه چي په نتيجه کي اډولف اوش Adolph Ochs چي روسي الاصله يهود وو رانيوله .. دغه ورځپاڼه د هغه راهيسي د اوش سالزبرګر د کورنۍ په ملکيت کي ده . دنيويارک ټايمز د کمپنۍ برحاله د مديره هيئت رئيس د همدې کورنۍ غړی آرتور سلزبرګر جونير Arthur Ochs Sulzberger Jr. دئ .



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املایی و انشایی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.

د سلز برگر کورنی د نیویارک ټایمز شرکت په نامه په امریکا کي یو مخکښه شرکت دئ چي د یهودانو د رسنیو لویه امپراتوري یي جوړه کړیده. د نیویارک ټایمز د ورځپاڼي سربېره، اتلس نوري ورځپاڼي او د هغي جملي نه د انټرنېشنل هیرالډټریبون International Herald Tribune، او د بوسټن ګلوب Boston Globe په نامه مشهوري ورځپاڼي، ۱۲ مجلي چي تیراژ یي و نیژدي ۵ ملیونه نسخوته رسیږي، راډیویي او ټلویزوني شبکي او د کتاب چاپولو۳ غټ شرکتونه لري. دغه شرکت د ۵۰ ویب سایټو خاوند هم دئ چي په هغه کي د NYTimes.com، Boston.com او About.com مشهور سایټونه هم شامل دي. دنیویارک ټایمزویب سایټ په کال ۲۰۰۸ کي۱۴۶میلیونه لیدونکي درلودل. پروسږ کال د نیویارک ټایمزکلنی بودجه دوه زره څلور سوه (۲۴۰۰) میلیونه ډالره وه (دوه بیلیونه او څلور سوه میلیونه ډالره).

دغه ورځپاڼه یوازي په نیویارک ۱۶، په ټوله امریکا کي ۱۱ او په نړۍ کي ۲۶ دفترونه لري. هره ورځ بلاناغه په ټوله امریکا او د نړۍ په نورو برخوکي په یوه وخت کي د شلو غولپیکره مطبعو لخوا چاپیږي او سمدلاسه تر لوستونکوپوري رسیږي. نیویارک ټایمز ورځپاڼه د نورو په سلهاو کارمندانو، ژورنالستانو په ګډون یوازي۳۵۰ ورزیده او نامتو فل ټایم لیکوالان په خپل خدمت کي راوستي دي. دغي ورځپاڼي تر اوسه د امریکا ډپولیتزر ۱۲۵ ژورنالیستکي جایزې وړي دي چي د نړۍ په ټولو ورځپاڼو کي یي ریکارډ ټینګ کړی دئ .

دنیویارک ټایمز شرکت دخپل رسانه ای فعالیت اصلي هدف په عالي کیفیت سره دکره خبرونو تهیه کول، د معلوماتواو سرګرمیو راټولول او خلکو ته د هغوی رسول ټاکلی دئ.
خو په عمل کي ډیر داسي څه لیدل سوي دي چي ددې کړنلاري خلاف ورزي پکښي ثابته سي او ورځپاڼي خپل ځان تر زیاتو پوښتنو لاندي راولي. د مثال په توګه هغه ډراماتیک او خونړی بدلون چي په ۱۹۶۵کي په اندونیشیا کي د پوځي کودتا له بابته رامینځته سو، نیویارک ټا یمز ددې تعهدپرخلاف واقعیتونه نکړه خپاره . په دغه هیواد کي د پوځ لخوا چي د سي آی اې او د امریکا مالي، پوځي او تعلمي مرستي او مشورې ورسره وې یوه خونړی پوځي کودتا وسوه. ددې هیواد برحاله جمهوررئیس احمد سوکارنوییي د کاره ګوښه او پرځای یي ډیکټاټور جنرال سوهارتو و واک ته ورساوه. په دي کودتا کي د جمهور رئیس سوکارنو ټول سیاسي پلویان او متحدین ددې هیواد د سیاسي صحني څخه محوه سول او د قریب یو ملیون انسانانو په شا وخواکي دسیاسي قتل عام یوه هولناکه تجربه چي د هیټلري نازیانو را وروسته نه وه لیدل سوې، پدې هیواد کي ښکاره کړله. کودتاچیانو په سلګونه صحي کلینکونه، کتابخاني، مکتبونه او عام المنفعه تعمیرونه په خپل کودتایي جریان کي د خاورو خاکه او په لکهاو تنه یي ووژل. دغه وحشتناکه حادثه چي بېله شکه دخپلو سیاسي مخالفینو قتل عام او یوه فاجعه وه چي کولای یي سوای د امریکا اونړۍ عام ذهنیت پاملرنه ځانته را جلب او دکودتا چیانو پرضد عکس العملونه را وپاروي اوهغه وغندي. خو داسي ونسوه بلکه هڅه وسوه چي غربي رسنی د نیویارک ټایمز په ګډون پرهغه تله تېره کي او داسي یي و ښیي چي ګویا هلته خیر و خیریت دئ . په امریکاکي ددې تراژیدی خبر د درو میاشتو وروسته د ټایم په مجله کي او یوه میاشت وروسته بیا (د اپریل پرپنځمه ۱۹۶۵) دنیویارک ټایمز په ورځپاڼه کي انعکاس وموند. جالبه خولا دا چي د نیویارک ټایمز ورځپاڼي په سرمقاله کي د «د اندونشیا دپوځ دغه عمل دیوه مدبرانه او ډیر هوښیارانه عمل» په حیث ستایل سوی وو .

ښایي متحده ایالات به د برحاله قانوني تضمیناتو له بابته دنړۍ ترټولو آزادي رسنی ولري، خوهغوی په خپلو خپرونو کي دبشریت دجهان شموله مفهوم کلمه بلکل حذف کړیده. مثلاً لکه ویتنامیانو چي پخوا یي د امریکایي متجاوزینو په مقابل کي د خپل هیواد دفاع کوله او په زرهاوو تنه د امریکا د ځواک لخوا ووژل سوه کار پیټ بمونه او د ناپالم اور غورځوونکي بمونه وربادي و اوریدل، یا نني عراقیان او افغانان چي د خپل هیواد د سرنوشت د ټاکلو په خاطر د امریکا لخوا بمباریږي او هستي یي تباه کیږي، متجاوزه ځواک هغوی په سړوکي نه حسابي، د رذیلو اوباشانو په حیث یي ګڼي، کثیف عناصر یي بولي چي باید دهغوی سره بد سلوک وسي او د ابوغریب، ګوانتانامو او بګرام غوندي هولناکه زندانو کي زجر کشه سي. دعراق په هکله نیویارک ډیلي نیوز د خپروني په یوه جالبه خپور سوي خط کي لیکل سوي وه چي « دهرجي آی د وژلو په بدل کي باید شل عراقیان اعدام سي » شاید د نیویارک ټایمز یا واشنګټن پوسټ ورځپاڼي به د داسي څه د خپریدو څخه ډه ډه کړي وي، خو دغو دواړه ورځپاڼو د صدام حسین د ډله ائزه وژنو د خیالي زرادخانو په باره کي ډیري ډېدوري ووهلي او ډیري درواغجني افساني یي جوړي کړلي، پدې لاره کي یي ډیر برجسته کردار ادا کړ. دهغه مقدماتي مراحلو په آغاز کي چي د امریکا په وحشیانه حملي باندي بدله سوه، دغه دواړو ورځپاڼو هیڅ یوه هم حتی یو تحقیقي مطلب خپور نکړ چي هغه څه رسوا کړي کوم چي د یوه سره درواغ وه. که په هغه وخت کي هغوی او نورو رسنیو او ټلویزونو داسي څه کړي وای ښایي چي نن ددغه بشري ضد جنایاتو په ماموریت کي به په لسهاو زره انسانان ژوندي پاتي سوي وای.

د استرلیا مشهوره لیکوال او وتلی ژورنالیست جان پیلجر John Pilger وایي چي د واشنګټن پوسټ او نیویارک ټایمز دواړو ورځپاڼو پر عراق باندي د امریکا د یرغل لا ډیر بخوا « د مغزو په پرېمینځلو» کي برخه اخیستي وه .


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

د نیویارک ټایمز د ورځپاڼي برجسته عنوانه داسي وه : «مخفي زرادخانه» [عراق] ،د جګړ ي د باکتریاوو پلټنه، یو فراري چاړواکی په عراق کي د اتومي بم پرمختیا تشریح کوي، د کیمیاوي او ذروي وسلو د اړو بیاجوړونه د یوه عراقي له قوله، « د رسمي منابعو له قوله،د تبنتېدلو عناصرو خبري د عراق پرضد د امریکا موضع ته لا نورهم قوت ورکوي ». دغه مقالي محض تبلیغاتي جنبه درلودلي او واقعیت یې ندرلود. جوډیت میلر(Judith Miller)د نیویارک ټایمزوتلي ژورنالیسته چي۸۵ ورځي یې پدې جرم چي ولي یې دخپلواطلاعاتو منبع رسوا کړه، په زندان کي تیري کړي، په یوه ایمېل کي چي د واشنګټن پوسټ لخوا افشا سوه اعتراف کړی دئ چي دهغې د اطلاعاتو منبع بل څوک نه وو بېله احمد چلبي، هغه چي یو تبعیدي عراقی او تر تعقیب لاندي یو مجرم دئ دعراق د ملي کنګرې (سی ان ای) رهبر چي مرکز یې په واشنګټن کي دئ او د سي ای اې لخوا یې ملاتړکېږي. خو را وروسته دکانګرس دتحقیقاتو په نتیجه کي معلومه سوه چي قریب ټوله دغه معلومات د چلبي او د سی ان ای د تبعیدیانو لخوا بې بنیاده وې.

د نیویارک ټایمز د ورځپاڼي مشهوره خبریال جیسون بلیر(Jayson Blair) چي د جعلیاتو په متخصص او د انټرنیټي مقالود غل په نامه و شهرت ته ورسېد ددغي ورځپاڼي د اتبار ماهیت یې په مخکه وواهه. نوموړي خبریال چي په ۲۰۰۳ کي و استعفا ته اړ سو په لسهاو ساختګي خبرونه د خپل ځانه څخه جوړکړي او نیویارک ټایمز ورځپاڼي به هغه په خپلو مخکښه پاڼو کي په برجسته او جاذبو عنوانو خپرول. ددې رسوایي په اړه د نیویارک ټایمز د تحریریه هیئت دوه لوړ رتبه غړي هاول رینز او جرالډ بوېډ هم په هغه وخت کي استعفا ورکړه.

دنن ورځي د مولټي میډیا په باڼد بازیو کي او دمصرف خواته دښویېدلو و پروسي ته چي څوک ګوري د آزادي خبریالی او د تحقیق زمینه دتباهی سره مخامخ سوېده، حال داچي نن ترهروخت زیات و هغه ته اړتیا لیدل کیږي. درواغ ؛ چي د دولتو او رسمي منابعو او په هغه پوري د تړلو رسنیو او ورځپاڼو عادي خاصه ده، داسي څه ندي چي هغه دي د رسنیو په درسي صنفو کي چاپه زده سوي وي. دغه کردار دټولنیز قرارداد په خلاف یوعمل دئ چي ځیني بې مسلکه کسان او د رسنیو چلونکي بېله دېنه چي د خپل واقعي نقش په ماهیت پوه سي، د لویو قدرتو و یوې تبلیغاتي دستګاه ته جذبیږي او دهغه دپاره کارکوي، ددې لاري څخه غواړي ځان دشهرت او رسمیت و دغه شاني یوه محور ته ورسوي.

کله چي و خلکو ته د اطلاعاتو د رسېدو پروسه د خرڅلاو په یوې متاع باندي اوړي نو په ورځپاڼو او نورو رسنیو کي د خبریالی نور مطالب لکه خبر، مقاله، تفسیر او د سرګرمیو د مضامینو محتوی هم خپله معنی د لاسه ورکوي او په دې توګه د خبریالی هغه اصلي او تحقیقاتي جنبه له مینځه ځي . خو ددې ټولو بدکرداریو سره سره عام باور خو داسي دئ چي د ژورنالیزم په متن کي هغه سپېڅلي او شریفانه سنتونه هیڅکله هم نه بدلیږي او هغه شریف او حق ګویه ژورنالیستان او لیکوالان چي ځانونه د نوي نسل شریف استازي ګڼي هغوی د خپل انساني تعهد پر مبنا خپل رسالت ندی هېر کړی او نه یې هېروي .

کېدای سي څوک د امریکا د سرمایه داري نظام پرمطبوعاتو او رسنیو باندي بې نهایته څه ووایي، څه ولیکي او دهري خوا نه هغه را و سپړي. نن په امریکه کي دورځي تر۳۷۰۰ زیاتي ورځپاڼي،۳۳۶۰ میاشتنی مجلي او۶۶۰ اووه نیزي مجلي خپریږي، هغه کالنی خپروني چي په مختلفو وختو کي چاپیږي حساب یې د ۲۲۰۰ څخه تېریږي، ددې نه علاوه پدې هیواد کي۸۹۱۰ رادیویي سټېشنونه او۲۶۴۵ ټلوېزوني شبکي فعالیت کوي، ددې سره یوځای په انټرنټ کي د آن لاین پراخه شبکه درګرده رشتیا او درواغ تبلیغاتي وایروسونه خپروي، نو که څوک یوازي دغه پورته ارقامو ته پام وکړي او ددغه عظیم تبلیغاتي حجم و قدرت ته ښه ځیرسي، او دهغوی د تأثیراتو و ژورتیا ښه ورننوزي، نو په امریکایي ټولنه کي د یوې مشخصي پدیدې سره حتمن مخامخ کیږي اوهغه داچي د امریکا قریب اکثره خلک ددې تبلیغاتي دستګاوو څخه بې اختیاره خپل لوری ټاکي او دهغه څخه رنګ اخلي. څوک چي دغه رسنۍ په اختیارکي لري لکه موږ چي د سر په سترګو وینو، دهغوی اصلي هدف وعامو ولسو ته د درواغو او رشتیا په کتارولو سره دخپلو افکارو، دخپلوخیالاتو او دخپلو هدفو رسول دي، دهغه رواجول دي او دغه ولسونه بیا په ځان پسي راکشول دي، هغوی په دې توګه دغه توان هم لري او کولای سي چي د همدې لاري ایسته او دوري ډیري حادثي را وزېږوي.

سرمایه داري نظام په خپل دچل او فریب کاری په مسیرکي د ډله ائزه رسنیو د لاري د خلکو په ذهنو کي ځان ځایوي او د انسانانو په مغزو او زړوکي لاسوهنه کوي. هغه خبري جریانونه چي دڅو محدود اومعلوم الحاله شبکو یا د نیویارک ټایمز، واشنګټن پوسټ، وال سټریټ ژورنال غوندي ورځپاڼو دلاري او یا نور آژانسو لخوا و ټولي نړۍ ته جوړیږي هغه یو جانبه کردار او دیورته څخه لکه ژلی پرمخاطبانو باندي اوریږي. ژان دارسي فرانسوی ټولنپوه عقیده لري چي: دې ته موږ ارتباط نسو ویلای درسنیو زیاتوالی او دهغوی شخوند، خاصتن مخ په وړاندي نړۍ کي چي غرب دهغه غوښتنه کوي دا اصلاً اوسنی ستونزي نه حلوي. بلکه په واقعیت کي همدغه د اطلاعاتو او خبرو


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

عمودي ماهيت دئ چي په نړی کي د اختلافاتو اصلي محور جوړوي، د اړيکو حق بايد افقي وي نه عمودي چي د قدرتمندانو لخوا وعادي کسانو ته جاري کيږي.

مأخذونه :


http://www.nytimes.com/
http://en.wikipedia.org/wiki/The_New_York_Times
http://www.boston.com/bostonglobe/
http://www.nytco.com/company/milestones/timeline_1881.html
http://www.ihtinfo.com/about/history.html
http://en.wikipedia.org/wiki/Jayson_Blair
http://www.johnpilger.com/page.asp?partid=153
Michael Parenti Political Archive: “Monopoly Media Manipulation” , May 2001




افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de